PROPERTY OF ACKU

دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ

اونیزه

شهادت

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

الهی فرمان

زویه! له خلکو په بې پروائي مخ مه اړوه، او د خمکی په سر په غرور سره تلل مه کوه، چی الله (تعالی) هیڅ مغرور او کبرجن نه خوښوي.

زویه! پر لاره د تللو پر وخت اعتدال مراعات کړه، خپل غږ ټیټ کړه، (هیڅ کله چیغې مه وهه) چې تر ټولو بد غږ د خرو غږ دی.

(لقمان : ۱۸ - ۱۹)

نبوی ارشاد

له عبدالله بن عمر رضی الله عنه څخه روایت دی هغه وایی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

کوم سړی چی د لمونځ اهتمام وکړي نو د قیامت په ورځ لمونځ د هغه لپاره رڼا گرځي، د حساب په وخت ورته دلیل گرځي او د نجات سبب ورته جوړیږي، او کوم سړی چی د لمونځ اهتمام ونکړي، د هغه لپاره به د قیامت په ورځ نه رڼا وي، نه دلیل او نه هم د نجات ذریعه، هغه به له فرعون، هامان او ابی بن خلف سره پاڅیږي.

(مشکواة)

شهادت دویم کال، ۵۴ مه گڼه، چهارشنبه - ۱۳۸۹ هـ ل د غویي ۱ مه د جمادی الاول ۷ مه - ۱۴۳۱ هـ ق ۲۰۱۰ م د اپریل ۲۱

افغانان د ختیځ او لویدیځ د دموکراسی په څپو کې

۲ مخ

د افغانستان شمال اوس د جگړې ډگر گرځیدلی دی

د افغانستان شمالي برخي په افغانستان کې په جگړو بوختو بهرنیو ځواکونو ته پدې ډیري مهمي دي، چي پدغو سیمو کې د دوی مهم لوجیستیکي اکمالات کیږي.

افغانستان په شمال کې هغه مهم سرکونه تیریږي، چې د گاونډي هیوادونو ازبکستان او تاجکستان څخه د ناټو و قواؤ ته اکمالات رسول کیږي.

کندوز هم د اکمالاتي لارو له پلوه د بهرني ځواکونو لپاره ډېر مهمه دی. د طالبانو د بریدونو له وجې اوس د شمال پر اکمالاتي لارو ناټو ته د اکمالاتي سامان رسد د گواښ سره مخامخ شوی دی.

په افغانستان کې د ملگرو ملتونو پخوانی استازی ټام کیونیگس وایي چي په شمال کې د طالبانو ستونزې ته باید پخوا لا پاملرنه شوې وای: پخوانیو تحلیلونو په واضح توگه دا په ډاگه کړې وه، چې د افغانستان په شمال کې اته داسې ولسوالی شته چیري...

پاتی ٤ مخ

انگلیس ها خواستار خروج نظامیان این کشور از افغانستان هستند

لندن ، رسانه ها:

بنابر نتایج نظرسنجی یک هفته‌نامه انگلیسی، هفتاد وهفت درصد از مردم انگلیس خواستار عقب‌نشینی نیروهای خود از افغانستان هستند.

بنا بر نظرسنجی هفته‌نامه انگلیسی "ایندپیندنت آن ساندی "، ۷۷درصد از مردم انگلیس خواستار خروج نیروهاي انگلیسی از افغانستان و بازگشت آنها به کشور هستند و تعداد زیادی از مردم این کشور بر این باورند که حضور نیروهای انگلیسی در افغانستان، خیابان‌های انگلیس را به مکانی با امنیت بسیار کمتر در مقابل حملات تروریستی مبدل کرده است.

بنا بر این گزارش، در نوامبر سال گذشته میلادي، هفته‌نامه ایندپیندنت آن ساندي، خواستار عقب‌نشیني مرحله‌ای و منظم نیروهاي انگلیسی از مبارزه غیرسازنده، غیرقابل برد و غیربرنامه‌ریزی...

بقیه در صفحه ۴

افزایش خودکشی نیروهای امریکایی در افغانستان

واشنگتن، الجزیرهٔ:

با وجود مصرف میلیون ها دالرامریکا برای مقابله با خودکشی نظامیان امریکایی، آمارها نشان می دهد که نه تنها میزان خودکشی بین سربازان کاهش نیافته بلکه افزایش نیز یافته و مقامات امریکایی را به شدت نگران کرده‌است.

شبکه تلویزیونی الجزیره در قطر ضمن گزارشی درباره افزایش پدیده خودکشي نظامیان امریکایی آورده است: از زمان فرود آمدن ارتش امریکا به افغانستان در سال ۲۰۰۱ میلادي تا تابستان سال گذشته تعداد ۷۶۱ نظامي امریکا یی در جریان درگیریها در افغانستان کشته شده اند و این درحالی است که ۸۱۷ نظامی امریکا یی در همین مدت خودکشي کرده اند.

افزایش زیاد خودکشی در میان نیروهاي امریکا یی در پنج سال گذشته نگرانی شدید افسران بلندپایه امریکایی را برانگیخته است.

این وضعیت باعث تعجب مسؤولان وزارت دفاع امریکا شده است زیرا میزان خودکشي در ارتش امریکا با وجود میلیون‌ها دالر هزینه براي مقابله با آن و به خدمت گرفتن صدها نفر از روانشناسان نه تنها کاهش نیافته بلکه افزایش نیز یافته است.

اکثر بحث‌و بررسي رسمي افزایش خودکشي ها را به علت فشار روانی ویران کننده ناشی از تکرار اعزام نیروهاي امریکایی به مأموریت‌های رزمی دانسته و ...

بقیه در صفحه ۴

سه هزار زندانی افغان در ایران به اعدام محکوم گردیده اند

اعدام سه تبعه افغان به جرم قاچاق مواد مخدر در جمهوری اسلامی ایران نشان می دهد که وضع افغان ها در ایران چگونه است و افغانها به چه ترتیب در سیستم قضایی این کشور گیر مانده اند.

یک افغان ١٦ ساله بنام احمد که به جرم ۲۰۰ گرام مواد مخدر در زندان ایران به سر می برد می گوید، امید نه دارد بار دیگر زنده به خانه خود بر گردد.

احمد نام در میان شش نفر افغان است که در زندان ایران به سر می برد. احمد که نام اصلی او چیز دیگر است و از ترس نام اصلی خود را تغییر داده از طریق تلیفون به رادیوی آزادی گفت، او به جرم مقدار بسیار کم قاچاق مواد مخدر به زندان رفته و فعلاً منتظر اعدام است. با در نظر داشت دوری و مشکلات راپوردهی در ایران، نا ممکن است بیانات آنها مستقلانه تایید شود.

به هر صورت، شرح حال و احوال زندانیان در مجموع، ....

بقیه در صفحه ۴

د پاکستان مشهور علمي شخصیت ډاکتر اسرار احمد ومړ

مشهور دیني عالم او د تنظیم اسلامي امیر ډاکتر اسرار احمد تېره شپه د وریپښې ناروغی له لامله د ۷۸ کالو په عمر ومړ. ډاکتر اسرار چې له تېرې څه مودې راهیسې د ملا او زړه په ناروغیو اخته و تېره شپه درې نیمې بجې په خپل کور کې له نړۍ کوچېدلی.

نوموړی د جماعت اسلامي له لومړنیو مخکښو غړیو له ډلې څخه و خو وروسته یې له مولانامودودي سره د اختلافاتو له مخې دغه گوند پرېښود او د تنظیم اسلامي په نوم یې نوې ډله جوړه کړه،دغه ډله چندیاني ونه ځلېده او څو کاله وروسته نوموړي له سیاسته لاس واخیست او ټوله پاملرنه یې ښوونې و روزنې ته واړوله.

نوموړي څه موده وړاندې له بي بي سي اردو سره په مرکه ویلي ول چې غواړي یو ښوونیز اسلامي چینل جوړ کړي خو پاکستان ورته اجازه نه ورکوي....

پاتی ٤ مخ

کابل ښار کې څه کم ۷ زره متره څلور کانالونه جوړیږي

کابل ، خبري رسنی:

کابل ښاروال پداسې حال کې چې ددې ښار په ۱۵مه ناحیه کې یې دیوه کانال دجوړونې کار پرانیست وویل چې د کابل په ښار کې به د څلور کانالونو په جوړونې اورغونې سره د ښار په لارو او واټونو کې د ولاړو اوبو په برخه کې د کابل ښاریانو ستونزه تر ډېره هواره شي.

په کابل کې د دغو څلورو کانالونو د جوړونې او رغونې کار د ورې په ۲۶ مه د خوراکي موادو کمښت ته د ځواب ورکونې د پروگرام تر نامه لاندې پیل شو.

کابل ښاروال محمد یونس نو اندیش غونډې ته په وینا کې وویل، چې د دغې پروژې په پیلېدلو سره به په زرگونه کسانو ته د کار کونې...

پاتی ٤ مخ

طالبانو د پاکستان د استخباراتو دوه پخواني مشران یرغمل کړي

پاکستان، رسنی :

پاکستاني رسنیو تایید کړه چې د دغه هیواد د بدنامي استخباراتي اداري آی ایس آی پخواني مشر کرنل امام او یو بل پخواني مقام خالد خواجه وسله والو طالبانو یرغمل کړي دي.

د تېرې مارچ د میاشتې پر شپږویشتمه نېټه د پاکستان د استخباراتو د ادارې ای ایس ای د دوو پخوانیو مشرانو کرنل امام او خالد خواجه د ناڅاپي ورکېدو خبر وروسته له دې کره او تایید شوچې وسلوالو طالبانو د دوی یوه ویډیو خپره کړه.

دا ویډیو چې کرنل امام پکې ښکاري د پاکستان د دنیا په نامه یوهٔ شخصي ټلویزون خپره کړې ده. طالبانو ویلي چې د ای ایس ای دغه دوه پخواني مشران د دوی په ولکه کې دي. وسلوالو طالبانو همداراز ویلي چې د ای ایس ای دغه مشران د طالبانو دښمنان دي.

طالبانو خبرداری ورکړی چې که په پاکستان کې د طالبانو نیول شوي مشران ملابرادر، منصور دادالله او ملا کبیر په لسو ورځو کې دننه خوشي نه شي نو دوی به د دې آی ایس آی پخواني مشران کرنل امام او خالد خواجه ووژني.

د ای ایس ای دغه پخواني مشران له کواټې څخه شمالي وزیرستان ته پر لاره وو چې ناڅاپه تري تم شول او وروستی تر لاسه شوې ویډیو وښووله چې دوی هلته د وسلوالو طالبانو له خوا تښتول سوي دي.

د طالبانو له خوا په دې خپره شوې ویډیو کې لومړی کرنل امام او بیا خالد خواجه را څرگندیږي. خالد خواجه په ویډیو کې وایي دوی د جنرال اسلم بېگ، حمید گل او کرنل سجاد په وینا شمالي وزیرستان ته تلل، خو کرنل امام بیا وایي چې دوی له جنرال اسلم بېگ سره تر سلا مشورې وروسته شمالي وزیرستان ته سفر کاوه.

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

پر ایران احتمالي برید او عواقب یی

داسې اوازی دي چې امریکا پر ایران د یرغل لپاره د خو میاشتو راهیسی چمتووالې نیولې او خپل ځواکونه یی د هند په سمندر او ډیگوگارشیا کې متمرکز کړیدي.

. امریکا تور لگوی چې ایران اتوم بم جوړوی مگر ایران هر وخت د امریکا دا تور ردوي او وایي چې موږ یورینیم د غیر اتومي ضروریاتو لپاره غني کوو چې خپله انرژي وربراندی پوره کړو.

نه امریکا کره شواهد لري چې د ثبوت په توگه یی وړاندی کړي او نه هم ایران وایی چې هغه د اتوم بم د جوړولو تابیه کړې. په هر حال د امریکا شک او وهم دې کچې ته رسیدلې چې غواړي د ایران اتومی بټی ترڅنگ پر پوځي او نور مهمو اهدافو باندې د میزائیلو، او بمونو داسی باران جوړ کړی چې په لږ وخت کې د ایران د ملا تیر مات او له کاره یی وغورځوي که د ایران او امریکا ترمنځ د جنگ مرکزي نقطې او اصل وجهې ته وکتل شي نو دا جنگ په حقیقت کې د اسرائیلو ددفاع او په منځنی ختیځ کی دهغه د باداري د قایمولو لپاره دی.

که امریکا په ایران حمله وکړي نو ټوله دنیا په ځانگړی ډول د اسلامي هیوادو وگړي به همدا وگڼي چې امریکا په سیمه کې د اسرائیلو د بالادستی جگړه پرمخ بیایی او په دی سره به په اسلامي نړی کې د امریکا په خلاف د مسلمانانو په زړونو کې د کرکی څپه نوره هم توپانی کیږي او په دی توگه لږ تر لږه به په نیمه نړۍ کې په امریکا په خلاف د جنگونو، مظاهرو او مارشونو لړی پیل کیږي، د امریکا پلوي حکومتونو کې به په امریکایی اهدافو او دولتی ځواکونو د چاودنو او وژنو فعالیتونه ترسره کیږي. ایران به د امریکا له لوری د حملې په عکس العمل کې د خپلو توپونو او توغندیو خولې اسرائیلوته واړوي او په دی توگه د خپل انتقام اور په اسرائیلو یخ کړي ځکه چې ایران ددغه جنگ اصل عامل اسرائیل گڼي.

دا واقعیت دی چې د اسلامي نړۍ او امریکا ترمنځ د بی باوری او کرکې خلیج یواځې او یواځې د اسرائیلو په سر پیدا شوی، اسرائیلو د فلسطین ځمکه په زوره غبصه کړی او امریکا نه یواځی له لومړی ورځی نه دهغه هر اړخیزه مرسته کړی بلکې د صهیوني ریاست په قیام کې د امریکا ستر رول هم له چانه پټ نه دی. همدا لامل دی چې د اسلامي نړۍ په ډیرو وگړو کې د امریکا ددغه جانبدارانه پالیسي له کبله سخته کرکه راپاریدلې چې د القاعدې تنظیم جوړیدل دهمدغې کرکې محصول دی. که امریکا په ایران حمله وکړی نو د اسلامي نړۍ وگړي به یواځی همدا وانگیري چې امریکا د اسرائیلو په سر له ټولې اسلامي نړۍ سره دعراق او ایران په څیر اسلوک وکړي، نو ځکه دا خبره یقیني ده چې ددغه جنگ اور به ټوله سیمه نارامه کړي او داسی فاجعې به مخې ته راشي چې دهغوی مخنیوی به دهیچا له وسه پوره نه وي، د لکونو انسانانو وینې به وبهیږي او نړۍ به له یو خطرناک حالت سره لاس او گریوان شي.

آیا دا به ښه نه وي چې د جنگ فکر له دماغه وویستل شي، د بالادستې او باداري خوبونه پریښودل شي، د انساني حقوقو احترام وشي، د میم زرما ټول زما منطق نه لاس واخستل شي، هغه پیسې چې انسان وژونکو وسلو په جوړولو او جنگ کې لگول کیږي هغه د انسانیت د بقا، فلاح، سهولت او مخ په زیاتیدونکی غربت د له منځه وړلو لپاره ولگول شي.

په داسې یوه زمانه کې چې ساینس ډیر پرمختگ کړی او انسانان د ترقي آخري معرج ته رسیدلي دي د انسانیت د تباهی لپاره د وسلو جوړول او پرهغه بی ذریعه پسې مصرفول د سالم دماغ عکاسی نشي کولې. ایا د انسانیت د هوساینې او خوشحال ژوند د تیرولو په خاطر به دا ښه نه وي چې ټول هغه هیوادونه چې ډلوژنې اتومي او نورې خطرناکی وسلې انبار کړیدي، او هغه هیوادونه چې ددغو وسلو د ترلاسه کولو او جوړولو تابیه کړې په گډه له دی نه لاس په سر شي؟ خپلې ټولې انسان وژونکی وسلې تلف کړي او راتلونکی لپاره کلک تعهد وکړي چې پخپل لاس د انسانیت د هلاکولو وسلی نه جوړوي.

لوی الله انسان ته ډیر لوی علم او پوهه ورکړیده نه ښایي دغه پوهه د خپل خان د هلاکت لپاره په کار واچوي، که چېرته د گردی نړی انسانیت خپل علم او پوهه د انسانیت د خیر ښیگڼی لپاره په کار واچوي او پر یو بل د تیري پر ځای د علم او منطق په رڼا کې د عدل او انصاف لاره ونیسي نو نه یواځې دا چې نړۍ به د امن گواره وگرځي بلکې د غربت روانه خطرناکه لړۍ به هم ختمه شي، که نه نو دا خبره له ورایه تر سترگو کیږي چې د جنگ دغه لیونتوب به ټوله نړۍ په دوزخ بدله کړي.

افغانان دختیځ اولویدیځ ددموکراسی په څپو کې

میاگل اروال

احمد شاه «وحدت» Ahmad Shah WAHDAT Mobile: 0700252598 E-mail: ahmadshahwahdat2@yahoo.com

دبن د غونډې نه [illegible] موده کې ډیرې داسې ډنډورې وغږول شوې اولا هم روانې دي [illegible] دادی یو ځل بیا به له دغه او هغه ترور او اختناق نه وروسته، افغانان دهغې روښانه او بسیا ټولنې څښتنان شي، چې د دموکراسی وړانگو به یې هرې خوا ته رڼا خوره کړې وي.

په دې کې شک نشته، چې دموکراسي د ژورورېښو او د ربښتوني مفهوم په درلودلو سره واقعاً بشري ټولنو نیکمرغي تامینوي، خودا چې کومه دموکراسي په کوم مفهوم، د کومې ټولنې له پاره او په کومو شرایطو؟ دا نو بیا د څیړنې ځنگړې مساله او خبره ده.

زموږ جگړه ځپلي ولس د دموکراسی په معنی او مفهوم ښه پوهیږي دا ځکه چې دلته د دموکراسی د لسیزي په نوم یوه دوره تیره شوې، موږ ددغې دموکراسی خوږې او ترخې څکلې دي، خو دیرش کاله پخوا همدغې دموکراسی هم زموږ له خاورې کډه وکړه، هیواد او ټولنه په داسې گډوډیو سر شوه، چې په المنجد کې هم ورته وړاصطلاح نه میندل کیږي.

اوس چې یو ځل بیا د دموکراسی ترچترلاندې زموږ ټولنې ته یو شمیر گډوډیو بیرته تشریف راووړ، نه یواځې زموږ دهوسا کولو او بسیا کولو ځرک په کې نشته، بلکې هغه څه یې را سوغات کړل، چې زموږ هیواد او ټولنه یې په داسې بد مرغیو اخته کړل، چې (نشته دم یې ددنیا دپاړو گانوسره). سمه ده، چې دا د دموکراسی د مفهوم او معنی گناه نه ده دا د هغه چا گناه ده، چې د دموکراسی په نوم یې، دیکتاتوری (سوپه کراسی) اوانارشی (گډوډی) ته یې د دموکراسی پرتوگ وراغوستی.

په دې معنی چې دوی(؟ !)خپلوناوړه عملونو او سلوکونوته ښه پوښ ورکړي، هڅه کوي چې د ولس په سترگو کې خاورې او شگې و دوروي او د دموکراسی په نوم هغه کارونه و کړي، چې د نړی په دموکراتیکو او دیکتاتوري رژیمونو کې یې ساری نشته.

دا به هم له انصاف نه لرې خبره وي، چې همدا اوس پخپله ټولنه کې د دموکراسی له شتونه څخه کورټ منکرشو، د مثال په ډول زموږ هیوادوال د بیان د آزادی او د مظاهرو د کولو له حق څخه برخمن شوي، خو دا چې همدا حقوق څه راز اودڅه لپاره کارول کیږي؟ دا نوبیا بیله خبره ده، داځکه چې د همدې حقوقو څخه څومره د ملي گټو د ضد او د شخصیتونو د توهینولو له امله کاراخیستل کیږي.

پخه خبره ده چې دموکراسي هم خپلې ځانگړې غوښتنې اواخلاق غواړي، دا بیا هله تامینیدای شي چې په ټولنه کې علم او پوهه موجوده وي او غړي یې خپل ځان او خپل حقوق وپیژني. که چیرې یوه ټولنه د دموکراسی په مفهوم او پرځای کارولو وپوهیږي او د ټولنې اړتیاوې په کې ولټول شي هرومرو به دغه ټولنه د بسیا او هوسا ژوند خاونده شي.

په هر کار کې افراط او تفریط ددې لامل گرځي، چې له یوه پلوه هغه کارنشي ترسره کیدای او له بله پلوه ضروري ښیگڼې اواړتیاوې بدناموي او دولس ترمنځ ناهیلي او اندیښنې هم را ولاړوي. په کارده چې د دموکراسی د اصل مفهوم او معنی په هکله یو څه لنډ، خو ضروري معلومات وړاندې کړو.

یو عالم ادنیک آئین د سیاسي او اجتماعي لغتونو په کتاب کې لیکي چې: دموکراسي د یوناني کلمي دموس یعني وگړو څخه اخیستل شوي او کرانوس بیا د حاکمیت او قدرت څخه مشتق شوي. دموکراسي د حاکمیت یو ډول دی، چې ځانگړی لامل یې په رسمي توگه د اقلیت تابعیت دی له اکثریت څخه او د هغې ټولنې د افرادو او اتباعو د مساوي اساسي حقوقو او ازادیو په رسمیت پېژندل دي.

سریلان کاپلان (پارلماني اصطلاحاتو په فرهنگ) کې چې ښاغلي محمد کاظم ملوان په پښتو او دري ژباړلې لیکي چې: دموکراسي د خلکو حاکمیت دي په مستقیمه دموکراسي کې خلک د ټولو پالیسیو په هکله په مستقیمه توگه رایه ورکوي لکه (ریفرینډم)... او پر استازیتوب ولاړه دموکراسی کې د ټاکل شویو وگړو د حاکمیت نماینده گي کیږي.

ددموکراسي تر سرخی لاندې یوه ځانگړې خپرونه بیا د دموکراسی په برخه کې لیکي په دموکراسی کې اوسېدونکي غواړي د خپلې ټولنې قوانین ومني، ځکه چې دوی خپل ځانونه خپلو مقرراتو او قواعدو ته تسلیموي. عدالت هغه وخت په ښه توگه لاس ته راتلای شي کله چې قوانین د هغو خلکو په واسطه منځ ته راشي چې هغو یې باید ومني.

دغه خپرونه زیاتوي: د دموکراسی قوانین ښایي ډیرې سرچینې ولري لیکل شوي اساسي قوانین، اساسنامې او مقررات، اخلاقي او مذهبي زده کړې، کلتوري عنعنات، دودونه او رواجونه بې له دې چې اصل یې په پام کې ونیول شي قانون باید ټاکلي شرطونه خوندي کړي تر هغه چې د وگړو حقونه او آزادي وساتي.

زموږ په ټولنه کې د ظاهر شاهي حکومت د دموکراسي د لسیزي سوغات د ثور خونړی کودتا او د هغې په نتیجه کې د دموکراتیکو رژیمونو منځ ته راتگ وو. هغه دموکراتیک رژیمونه. چې په پرولتاري دیکتاتوری ولاړ و پر هغې دیکتاتوری چې دموکراسی بوی هم په کې نه لیدل کېده.

همدا دموکراتیکو رژیمونو د دموکراسی نوم او مفهوم هومره بې خونده او ریشخند کړ چې اوس یې وکړي له ډېرې کرکې د نوم پر اخیستلو شرمېږي. اوس چې کله هم خلک د دموکراتیک رژیم او دموکراسی نوم اوري نو هغوي ته هماغه پخواني ظلم، ترور، وحشت او دهشت مخې ته ودرېږي.

دا چې موږ شرقي دموکراسي(د پرولتار یا دموکراسي) ولیده او اوس د غربي دموکراسی په سیلاب ورگډېږو خیر دې وي چې دا ځل به مو برخه لیک څېرته ورسېږي، وبه ژغورل شو او که د تل له پاره به په دې خړ اوبو کې ډوب شو.

دا کومه دموکراسي چې همدا اوس زموږ په هېواد کې روانه ده د لویدیځ هغه سوغات دی چې نه زموږ له دین سره سمون لري او نه هم زموږ له منل شویو ملي دودونو سره دلته هغه څه دود کېدل روان دي چې نه زموږ په ټولنه کې ورته عیني شرایط برابر دي او نه هم ذهني شرایط دا هغه څه دي، چې په لویدیځ کې دموکراسي او دلته ورته جنایت ویل کېږي.

په غربي دموکراسی کې پارلماني رژیم او انتخابات د دموکراسی بنسټ جوړوي په داسې حال کې چې زموږ په دین کې بیا تر دغو ټولو ډېره زړه او اوږده ریښه لري. د اسلام د حکومتي نظام د کتاب مولف مولانا حامد انصاري لیکي: اسلام د دنیا لومړنی طاقت دی چې د اوسنی نړۍ د پارلماني نظامونو څخه زر کاله مخکې یې د شوري په نوم د یو ربښتوني پارلماني نظام د تشکیل کار پخپلو اوږو واخیست. اسلام لا هغه وخت د عامه اختیار د اصولو بنسټ کېښود، چې د اروپا د جهالت پر تاریخ باندې د پنځو پېړیو زمانه تېره شوې وه... د ځمکې په هېڅ برخه کې د جمهوري او دموکراسي (عمومیت) سپرلي نه و راغلي.

موږ ته په کار ده چې د همدغې تاریخ په رڼا کې د هغې دموکراسی لټه وکړو. چې هم مو په کې دین او هم په کې وطن خوندي وي او په دې ډول سره د بشري ناخوالو او بې خوندیو ښکار نه شو. که دې پخې لارې ته پاملرنه ونه کړو، نو هغه لور ته به روان شو چې به این راهی که میروی به ترکستان است.

پس منظر سفر بارک اوباما به کابل

اعزامی

قراریکه خوانندگان اطلاع دارند، چندی قبل بارک اوباما رئیس جمهور ایالات متحدهٔ امریکا طی یک سفر غیر مترقبه، نخست وارد پایگاه هوایی بگرام شد و از آنجا ذریعه هلیکوپتر به ارگ ریاست جمهوری مواصلت کرد و در محوطهٔ ارگ با اجرای تشریفات رسمی مورد استقبال حامد کرزی قرار گرفت. اوباما در شرایطی به افغانستان سفر کرد که جناب حامد کرزی رئیس جمهوری افغانستان قبل از آن سفرهای زنجیره ای در سطح منطقه داشت و تازه از مسافرت های خود از کشورهای پاکستان، چین و ایران به کابل برگشته بود. تحلیل و تفسیرهای آگاهان سیاسی حاکی از آنست که زعامت افغانستان تلاش دارد تا بخاطر اعاده صلح و ثبات در کشور، همکاری کشورهای منطقه را جلب نماید. این تلاش ها در زمانی صورت می گیرد که قرار است سه هفته بعد جرگهٔ ملی مشورتی صلح به ابتکار جناب کرزی در کابل دایر گردد و در آن به مشورهٔ بزرگان قوم، دانشمندان، علما و نمایندگان مردم در شورای ملی و شوراهای ولایتی، در بارهٔ چگونگی برقراری صلح و ثبات و چگونگی آغاز گفتگوها با مخالفین مسلح، مشوره های صورت گیرد.

باوجود آنکه منابع امریکایی، اهداف سفر بارک اوباما را به دو نکته خلاصه کردند که گویا رئیس جمهور ایالات متحده به مقصد دیدار و مذاکره با رئیس جمهور افغانستان و قدردانی از عساکر امریکایی پس از فتح مارجه به افغانستان سفر کرده است، ولی از امکان بعید نیست که در جریان این مذاکرات، علاوه از تأکید روی مناسبات دوجانبه به مسایل دیگری نیز پرداخته شده است.

نخست از همه انتخاب زمان این مسافرت که جناب حامد کرزی تازه از سفرهای خود از کشورهای منطقه به کابل برگشته بود، ثانیاً گفته میشود که عساکر ناتو و افغان، پس از تصرف مارجه در نظر دارند، عملیات مشابهی را در ولایت قندهار براه بیندازند، ثالثاً فقط چند روز قبل از آن سفر، یک هیئت بلند پایهٔ دولتی پاکستان که در ترکیب آن وزیر امور خارجه و فرمانده نیروهای زمینی پاکستان حضور داشتند، به امریکا مسافرت نموده و در آنجا با آقای اوباما نیز دیداری در رابطه به اوضاع افغانستان داشتند. رابعاً از آمادگی های دولت افغانستان برای برگزاری جرگهٔ ملی مشورتی صلح که قرار است در اوایل ماه ثور در کابل دایر گردد؛ اینها همه رویدادها و تحولاتی اند که سفر اوباما را در کشور ما درین مقطع زمانی پر اهمیت می سازد. کشورهای چین، ایران، هند و پاکستان در منطقه، از جمله دولت های قدرتمند و یا نو ظهوری اند که از گذشته های دور با افغانستان مناسبات عمیقی دارند و روند اوضاع افغانستان بی تاثیر بر اوضاع کشورهای نامبرده نمی باشد. استقبال گرم مقامات چینی از جناب حامد کرزی و هیئت همراهش در بیجنگ به عنوان یک شریک مقتدر سیاسی و اقتصادی در منطقه، ناگزیر موجب رشک کشورهای غربی می گردد. دولت هند باوجود حسنه شدن روابط سرد قبلی دهلی با واشنگتن، هنوز از موقف جانبدارانهٔ مقامات امریکا از پاکستان نگران است و با وجود هماهنگی هر دو کشور در مبارزه علیه دهشت افگنی، از همکاری ستراتیژیک ایالات متحده با اسلام آباد رنج می برد. ایران در همسایگی افغانستان که نقش کمتری از پاکستان در تحولات کشور ما ندارد، از حضور نظامی ایالات متحدهٔ امریکا در افغانستان شدیداً نگران است و مقامات آن کشور ازین بابت به کرات اظهار نارضایتی کرده اند. چنانچه در جریان مسافرت اخیر رئیس جمهور ایران به کابل که همزمان با سفر رابرت گیتس وزیر دفاع امریکا صورت گرفت، هر دو مقام یکدیگر را به مداخله در امور افغانستان متهم کردند.

بدیهی است که مسافرت جناب حامد کرزی به کشورهای متذکره با چنان موضعگیری های خصمانه در برابر واشنگتن، در روابط فیما بین ایالات متحده امریکا و افغانستان تاثیر می گذارد و یکی از مسایل جانبی دیگری که آقای اوباما در کابل به حامد کرزی، مطرح کرده شاید همین مسئله بوده باشد، زیرا هیئت پاکستانی در گفتگو با اوباما، شاید واشنگتن را قانع کرده باشد تا در تحولات آیندهٔ افغانستان جایگاه اسلام آباد را محفوظ نگهدارد.

هر چند در اعلامیهٔ رسمی صادره پس از گفتگوهای رؤسای جمهور ایالات متحده امریکا و افغانستان غیر از تحکیم روابط دوجانبه و بحث روی مسایل مورد علاقه دوطرف مطالب بیشتری اشاره نشده، ولی صاحب نظران را عقیده بر آنست که هم بارک اوباما و هم جنرال مایک مولن که یک روز بعد از آن در کابل با حامد کرزی ملاقات کرد، از روال جاری اقدامات حکومت در مبارزه علیه فساد اداری و ارتشاء و مبارزه علیه کشت و قاچاق مواد مخدر اظهار نارضایتی کرده و هشدارهای پنج ماه قبل کشورهای عضو ناتو به دولت افغانستان، یکبار دیگر تکرار شده است.

دولت افغانستان در برابر این خواست غربی ها در گذشته و حال پاسخ خود را ارائه داشته است. به این شرح که فساد اداری پدیدهٔ ناخوشایندی است که در تمام دنیا و در همه کشورها به پیمانه کم و یا زیاد وجود دارد و آنچه که فساد را در افغانستان نسبت به دیگر کشورها برجسته می سازد، شیوع فساد خارجی ها در نحوهٔ رساندن و مصرف کمک های خارجی در زد و بند با بعضی عناصر داخلی است که دولت بار بار عجز خود را از کنترول عناصر مزبور به نسبت حمایت های خارجی آنها، ابراز داشته است. پرده برداشتن حامد کرزی از مداخله وسیع سفارت خانه های خارجی و دفتر نمایندگی ملل متحد در افغانستان، در جریان انتخابات ریاست جمهوری گذشته و اعمال تقلبات بی رویهٔ آنها در جریان رأی دهی، رأی شماری و اعلان نتایج انتخابات، حاکی از التهابی شدن روابط افغانستان با جامعهٔ جهانی است. حامد کرزی در خطاب به کارمندان کمیسیون مستقل انتخابات، خاطرات تلخ خود را از انتخابات گذشته اظهار داشت و هشدار داد که بار دیگر به مداخلات خارجی ها در امور داخلی کشور بالاخص در امور انتخابات اجازه نخواهد داد. همچنان رئیس جمهور در صحبت با مردم قندهار، به آنها وعده سپرد که در صورت عدم رضایت آنها به نیروهای خارجی اجازهٔ عملیات در قندهار را نخواهد داد، رئیس جمهور در سخنان خود به اعضای کمیسیون انتخابات گفت: هرگاه خودسری و تفرقه اندازی خارجی ها در کشور ما ادامه یابد، این عملکرد آنها به منزلهٔ اشغال افغانستان تلقی خواهد شد و سخن طالبان که در گذشته همین تعبیر را از حضور خارجی ها در افغانستان داشتند، تحقق خواهد یافت. مقامات امریکایی بالاخص فلیپ کرولی سخنگوی وزارت امور خارجهٔ امریکا و پیتر گالبریت سابق معاون نمایندگی ملل متحد در کابل، در برابر سخنان کرزی عکس العمل نشان داد. اظهار داشتند که رئیس جمهور امریکا قضاوت کرزی را نمی پذیرد. کرولی در اظهاراتش از دولت افغانستان تقاضا کرد تا ادارهٔ وی به اقداماتی متوسل شود که سبب کاهش فساد اداری در دستگاه حکومت شده و قناعت مردم و جامعه جهانی فراهم شود. پیتر گالبریت نیز در عکس العمل به سخنان حامد کرزی علیه خودش اظهارات حامد کرزی را رد کرد و با خنده آور خواندن آن، ماموران افغان را متهم به تقلب در انتخابات کرد. رابرت گیبز سخنگوی قصر سفید نیز با اظهارات شبیه فوق الذکر در برابر سخنان جناب کرزی عکس العمل نشان داده و آن را غیر قابل قبول دانسته است.

رهبرانو ته

له مشرانو نیولی ترکشرانو پورې په دې حقیقت ښه پوهیږي چې د افغان اولس په وړاندې تر ټولو لویه او مهمه ستونزه د افغانانو خپل منځي اختلاف او تفرقه ده، افغانان چې د څو لسیزو راهیسې له کومو غټو غټو کړاوونو سره لاس اوګریوان دي ددی ترشا د همدغه ناروا اختلاف لاس دی، لدې پرته بل داسې کوم غټ لامل څوک نشي ښودلې چې هغه له اختلاف نه زيات خطرناک وي.

اختلاف هغه وژونکی سرطان مرض دی چې که په وخت درملنه یی ونشي نو انسان د مرګ کومې ته ورتیل وهي. که د یو هیواد د وګړو په رګونو کی د اختلاف هلاکوونکی زهر دننه شي نو هغوی د ازادی په څیر له لوی نعمته محرومېږي او د غلامی کړی ورپه غاړه کیږي، خپل هویت، تشخص او تعارف له لاسه ورکوي، واک او اختیاریی ختمیږي او د بل چا په وړاندې د اطاعت سجده کوي. نه پخپل خوښه کارکولی شي او نه خوراک او څښاک، نه له خپلی ښځی سره مینه کولي شي او نه هم له خپل اولاد، پلار او مور سره، بدن به یی خپل وي خو واک به پرې د بل چاوي، ژبه، سترګې، دماغ او عقل به یی خپل وي خو داستعمال اختیار به یی د هغه له بادار سره وي. افغانانوچې پخپل پنځه زره کلن تاریخ کې یوې ورځې لپاره هم د چا د غلامی کړی په غاړه کی نده اچولې او ټول ژوندیی د غلامی په خلاف په جنګونو کی تیرکړې، لکونه ککری ئي دخپل دین او استقلال په خاطر نذرانه کړي، او د خپل آزادي بنې یی پخپلو سرو وینو خروبه کړې، نن د هغه قهرمان اولس هرڅه په داولګیدلي او د بل چا رحم او کرم ته ناست دي، هر څوک وربان‌دی خپله خوښه تحمیلوي او د هرچا چی هرڅه زړه غواړي ورته وایی یی. څوک ورته د مرګ دامونه ږدي او څوک ورته د ذلت او بی غیرتي.

هغه افغانان چې د هغوی د لکونو قربانیو په برکت لکونو غلامو انسانانو د آزادي ستر نعمت ترلاسه کړ نن د همغه آزادي بخښوونکی اولس استقلال له هرې لوری ترګواښ لاندی دی، ګڼ مغرض هیوادونه لاس او پښې وهي چی د افغانانو د خپل منځي اختلافاتو څخه د ګټې په پورته کولو سره د هغوی استقلال ختم او د غلامي په زنځیرونو کې وتړي. که چېرته افغانانو په وخت خپل اختلافات شاته ونه غورځول او پخپلو کې د یووالي او ورورې مزبوت لاسونه ورنکړل نو هیڅ امکان نشته چې افغانان خپل تاریخي او له ویاړنه ډک استقلال له لاسه ورنکړي، وخت په تیزی سره له لاسه اوځي که له همدی اوس نه د وخت قدر او قیمت ونه پیژني او د خپلو تیرو غلطیو د تلافی لپاره چټک ګامونه اوچت نکړی نو راتلونکی لپاره به د اوښکو بیولو او لاسونو مروړلو پرته بل هیڅ نشي کولې، د مرګ سوالونه به کوي خو د عزت مرګ به هم ورته نه په برخه کیږي چې په آزاده فضاء کی سلګی ووهي او مړ شي.

د افغانستان ټول جهادي مشران چې د روسي یرغلګرو ځواکونو په خلاف د جهاد ښه نوم لري او له روسي غلامي څخه افغانستان ته په نجات ورکولو کی خپل رغنده رول لوبولې دی نن هم کولې شي چې د خپل اسلامي او افغاني مسئولیت په ترسره کولو دغه متشتت مګر بهادر اولس په یو فولادي صف کی منسجم او ټول د یو شعار او یو بیرغ لاندې ودروي.

د افغانانو د هر اړخیز بري او آزاد ژوند ضمانت یواځي او یواځي پدی کی دی چې په ګډه د خپل هیواد بهرني او داخلي پالیسي جوړ او ټولې نړی ته اعلان کړي، په هیواد کی دننه د افغانستان د مسلمان ملت په خوښه اسلامي حکومت جوړ او ټول په یو غږ د هغه د تقویی لپاره ملاوتړي. دا هغه څه دي چې د افغانانو د هر مشر او هر فرد د لاسه ښه پوره دي، دی کار لپاره نه سرمایي ته ضرورت دی او نه هم وسائلوته، بلکې د اتفاق په راتلو سره سرمایه هم پخپله پیدا کیږي او وسائل هم. دلته یواځې د اخلاص او میني ته ضرورت دی چې له هرڅه مهم او اړین دی.

د ملت غوښتنه داده چی په دی حساسو او نازکو شیبو کی دی د جهاد مشران له خپل رب او ولس سره هغه کړي ژمنې او تعهدونه ترسره کړي چی له ملحدو روسی یرغلګرو ځواکونو په خلاف د جهاد پر مهال کړي وو، او د هغوی په آواز یونیم ملیون افغانانو خپلی ککری نذرانه کړی.

ولسي جرګې سولې ته د ملا عمر د چمتوالي هر کلی کړې

د افغانستان د ولسي جرګې غړي او د سیاسي چارو کارپوهان د سنډې ټایمز ورځپاڼې د راپور په اړه چې په هغې کې ویل شوي، د طالبانو مشرملامحمد عمرله امریکا سره د سولې خبرو اترو ته زړه ښه کړی، بېلابېل نظرونه لري.د ولسي جرګې مرستیال میرویس یاسیني وایي، که چېرې دا خبره رښتیا وي نو په افغانستان کې د سولې او ثبات په راوستلو کې یو د پام وړ پرمختګ دی.

د یوې پوښتنې په ځواب چې ایا د طالبانو او امریکا ترمنځ مخامخ خبرې اترې به د کابل د نظام مشروعیت تر پوښتنې لاندې رانه ولي، هغه وویل:

"د جګړې یو طرف د امریکا په مشری ناټو ده، زه په دې کې څه ستونزه نه وینم، چې د جګړې له کومې خوا سره دې خبرې وشي.

پریږدئ چې خبرې ووینو، د خبرو شرایط وګورو، عملیه یې وګورو او وروسته له هغې داسې یوه پریکړه وکړو چې زموږ او ستاسو ملي پریکړه وي."

سنډې ټایمز د طالبانو د دوو چارواکو له قوله چې اصلي نومونه یې نه دي اخیستل شوي، راپور ورکړی چې ملا محمد عمر نور نه غواړي د افغانستان واکمن شي او له امریکا سره جدي او صادقانه خبرو اترو ته چمتو دی.

په دې اړه مود افغانستان د جمهوري ریاست او په کابل کې د امریکا د سفارت له چارواکو سره اړیکې ونیولې خو هغوی پرې له تبصرې ډډه وکړه.

بل خوا د ولسي جرګې ځینې غړي په دې ټینګار کوي، چې په افغانستان کې د سولې په هر ډول خبرو کې باید افغان دولت هم ګډون ولري.

د ولسي جرګې منشي عبدالستار خواصي په دې اړه ازادۍ راډیو ته وویل:

"دوی باید لومړی د افغانستان له اسلامي جمهوریت سره مذاکراتو ته داخل شي او که چېرې مستقیماً امریکا مداخله کوي، دا په دې معنې چې ګواکې په افغانستان کې هیڅ نظام نشته.

خو دا خبره تراوسه پورې امریکایي چارواکو هم نه ده تایید کړې. زه نه پوهیږم چې طالبان ولې وایې، چې له امریکا سره خبرې کوي."

په عین حال کې ځینې کارپوهان په دې باوردي، چې په افغانستان کې د خبرو اترو لپاره د طالبانو په دریځ کې بدلون نه دی راغلی.

د سیاسي چارو یو کارپوه وحید مژده وایې، یونیم کال مخکې طالبانو په دې شرط له ټولو خواوو سره خبرو اترو ته چمتوالی ښودلی و چې بهرنیان دې له افغانستان نه وځي.

پخوا هم په مطبوعاتو کې څو ځلې د خبرو اترو لپاره د طالبانو د چمتوالي په اړه راپوروونه ورکړل شوي و، چې وروسته د طالبانو رسمي سرچینو رد کړي دي.

بل خوا امریکایي چارواکي په افغانستان کې له عادي او جګ پوړو طالبانو سره د خبرو اترو په اړه یو دریځ نه لري، په دې وروستیو کې د دغه هېواد د دفاع وزیر وویل، د طالبانو له مشرانو سره د خبرو اترو لپاره اوس شرایط نه دي برابر دي.

شهادت جریده

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز څښتن: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله کامه وال
مرستیال: عبدالخلیل (محمد خلیل)
اړیکو شمېره ۰۷۰۸۱۹۸۵۸۲
د کتنپلاوي تر څارنې لاندې

آدرس: دحزب اسلامي دفتر
سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه

د ناټو قواوې په کونړ کې له یوه مهم پوځي مرکز څخه ووتلې

د تفصیلاتو سره سم د کونړ ولایت د ماټوګی ولسوالی د کوړنګل په سیمه کې میشتو بهرنیو قواوو د خپل مرکز څخه ټولې قواوې او سامان الات بلې سیمې ته نقل کړل او دغه قرارګاه یې په بشپړه توګه پرېښوده.

هغه اعلامیه چې پر ۱۴/۴/۲۰۱۰ نېټه په دې اړه کابل کې د ناټو د قواوو د مطبوعاتي دفتر څخه خپره شوې وایي چې دوی د خپلې پوځي ستراتیژۍ له مخې د مارچ په میاشت کې د کوړنګل د مرکز څخه بلې سیمې ته د خپلو قواوو لیږدول پیل کړي ول.

اعلامیه کې د پوځي قوماندانانو له قوله ویل شوي د هغې ستراتیژۍ له مخې چې د جنګیالیو پر ضد یې غوره کړې دا سمه او پر ځای فیصله ده او ناټوغواړي چې خپلې قواوې په ګڼ میشتو سیمو کې ځای پر ځای کړي.

اعلامیه همدا راز وایي چې ناټو هر وخت په نومورې سیمه کې د فوځي عملیاتو وړتیا لري.

که څه هم ناټو د کوړنګل څخه د خپلو قواوو ایستل خپله پریکړه ګڼې خو په سیمه کې د طالبانو یو مهم قوماندان حاجي محمد دوران "صافي"

د کوړنګل څخه د بهرنیو قواوو وتل پر هغوی د طالبانو لخوا د فوځي فشار نتیجه وګڼله او د تلیفون په کرښه یې افغان اسلامي اژانس ته وویل ((له څو ورځو راهیسې مجاهدینو د کوړنګل په قرارګاه کلک بریدونه پیل کړي وه، تیره شپه مجاهدینو د کوړنګل د قرارګاه په امنیتي پوستو او قرارګاه سخت بریدونه تر سره کړل چې د جګړې په ترڅ کې اته (۸) تنه بهرني عسکر او څلور (۴) تنه مجاهدین ووژل شول.))

"صافي" زیاته کړه (د مجاهدینو د پرله پسې کلکو بریدونو څخه وروسته د کوړنګل په قرارګاه کې ټولې میشتې امریکایي قواوې د سیمې څخه ووتلې او هغه قرارګاه چې اته کیلو متره مربع سیمه کې پرته وه د طالبانو لاس ته ورغله.)

هغه وویل چې د کوړنګل څخه د بهرنیو قواوو د په شا کیدو څخه وروسته اوس یوه پراخه سیمه د طالبانو لاس ته ورغله او طالبان په پراخه سیمه کې تګ راتګ کولای شي.

سیمه ایز قوماندان پدې پراخه سیمه کې په خانګړې توګه د کوړنګل، کلای ګل، چپچل او اومار د سیمو نومونه واخیستل.

د افغانستان شمال اوس د ...

چې ترهګر یکې ځای پر ځای شوي دي او دغو سیمو امنیت ته ګواښ ګرځېدلي دي. باید هغه وخت لا چا دې چاره کړې وای. د بېلګې په توګه پدغو سیمو کې باید د پولیسو قوماندانی جوړې شوي وای او په کلواو بانډو کې باید بیا رغونه سوې وای. موږ دا ونه کړل او اوس یې د ناسمو پایلو سره مخامخ یو.

د افغانستان په شمال کې د بهرنیو ځواکونو مشري د الماني پوځ په غاړه ده. الماني پوځ پدغو سیمو کې د څه باندې شپږو زرو عسکرو مشري په غاړه لري، چې د پنځو هیوادونو سره تړاو لري.

امریکایان غواړي چې اوس دغې سیمې ته د شپږو زرو په شاوخوا کې نور عسکر او جنګي سامان ولېږدوي. داسې اټکل کیږي چې په ټول افغانستان کې د څه باندې شل زره طالب وسله وال شته. کله چې د افغانستان په جنوب کې پر دوی حلقه تنګه شوه نو دوی اوس د افغانستان و شمال ته مخه کړېده.

دا چې امریکا د الماني پوځ څخه کومې غوښتنې لري هغه د ایساف قوماندان سټېنلي مک کرسټل له وړاندې لا په ښکاره ویلي دي: چې امریکایان غواړي المان خپل عسکر د جګړې لپاره وروزي او د افغانستان په شمال کې د امریکا د ممکنه ستر پوځي عملیاتو په ترڅ کې ورسره کومک وکړي.

په المان کې اوس زیات کسان وایي چې المان باید د جګړې په وړاندې خپل آند کې بدلون راولي: د سولې ساتنې د ماموریت په ترڅ کې مهمه خبره داده چې د سوله ساتونکي پوځ په کورني هیواد کې پدې هکله بحثونه وشي او خلکو ته تشریح کړل شي چې هلته څه کیږي او څنګه کیږي.

د المان حکومت غواړي چې شمالي افغانستان ته نور ټانکونه ولېږدوي. پدغو سیمو کې په دنده بوخت الماني عسکر دغو ټاکنو ته سخته اړتیا لري.

انګلیس ها خواستار خروج ...

شده در افغانستان شد اما انګلیس هنوز هم در افغانستان حضور دارد و از آن زمان تاکنون ۵۰ تن از نظامیان انګلیسی در افغانستان کشته شدند.

بنا بر نظرسنجی های این هفته نامه انګلیسی که دیروز منتشر شد، ۷۷ درصد از مردم انګلیس هم اکنون خواستار خروج نیروهاي انګلیسی از افغانستان هستند. از هر ۷ انګلیسی تنها یک نفر خواستار ادامه مأموریت نیروهای انګلیسی در افغانستان است و ۵۰ درصد از افرادي که در این نظرسنجي شرکت کرده اند بر این باورند که خطر تروریزم در خیابان های انګلیس با حضور نیروهاي انګلیسی در افغانستان افزایش یافته است.

بنا بر این ګزارش، در حالی که انګلیس در آستانه انتخابات پارلمانی ۲۰۱۰ قرار دارد، هیچ یک از احزاب عمده انګلیس متعهد نشده اند که در صورت پیروزی، نیروهای انګلیسی را از افغانستان خارج کنند و تنها حزب ملی اسکاتلند که محدود به یک بخش از انګلیس می شود، خواستار ارزیابی مجدد صادقانه عملیات نظامیان انګلیسی در افغانستان شده است.

"نیک کلګ" رهبر لیبرال دموکرات های انګلیس، هفته ګذشته بیشتر رکارد خود را به منظور آن کسب کرد که به طور جدی درباره افغانستان بحث کرد اما اهداف سیاسی وی به ګونه ای است که حزب لیبرال دموکرات را متعهد می کند تا حامیان مأموریت نظامیان انګلیسی در افغانستان باشند البته این مأموریت نظامی باید بر اساس راهبردی باشد که فساد را درافغانستان ازبین ببرد.

افزایش خودکشی نیروهای ...

مطالعات و پژوهش های تازه نیز بر این موضوع تأکید کرده است.

ارتش امریکا درحال حاضر بیش از ۶۸ هزار نیرو در افغانستان و نزدیک به یکصد هزار نیرو در عراق مستقر دارد.

جنرال "جورج کیسی" از افسران بلندپایه ارتش امریکا نا امیدی خود را به خاطر پدیده خودکشی نظامیان امریکا یی ابراز داشت و در یک کمیته مجلس نمایندګان امریکا ګفت: صراحتاً یأس و نا امیدي وجود دارد زیرا همه تلاش های انجام شده برای مهار خودکشی موفق نبوده است.

تفسیر "ان مک هیو" وزیر ارتش امریکا نیز بهتر از سخنان کیسی نبود زیرا او نیز در کمیته خدمات ارتش در مجلس سنای امریکا ګفت که معتقد نیست بتوان در آینده نزدیک بر مشکل خودکشی نیروهاي امریکایی چیره شد. وي پدیده خودکشی نظامیان امریکایی را نګران کننده خواند.

با وجود اینکه "ناامیدی و نګرانی" عبارتهایی نیستند که قوماندانان نظامی معمولاً از آن استفاده کنند اما این دو قوماندان مجبور شدند تا زیر فشار افزایش خودکشی نظامیان امریکا یی بین سالهای ۲۰۰۱ میلادی تا ۲۰۰۶ میلادی آن را بکار ببرند.

جریان خودکشی در سالهاي اخیر روند صعودي داشته است به ګونه یی که در سال ۲۰۰۳ میلادی ۷۷ نفر، در سال ۲۰۰۸ میلادی ۱۴۰ نفر و در سال ۲۰۰۹ میلادی ۱۶۰ نفر از نظامیان امریکایی درحال خدمت خودکشی کرده اند.

سه هزار زندانی افغان ...

از روند یک سیستم غیر کافی و غیر مطمین قضایی خاصتاً برای اتباع افغان حکایت دارد.

چنانچه چندین زندانی افغان ګفتند، آنها هیچ ګاه به محاکمه آورده نه شدند تا با اتهامات علیه آن ها روبرو شوند. حق که در قانون اساسی و قانون جزایی ایران تضمین ګردیده است. حق دفاع، یک اصل قانونی است که در اعلامیه جهانی حقوق بشر ملل متحد درج شده است.

به اساس بیانات زندانیان، مقامات ایرانی حتی حقایق اساسی را در مورد اتهامات برای آنها اطلاع نداده اند. چندین زندانی افغان ګفتند، حکم نهایی محکمه روشن نبوده و حتی به صورت رسمی برای آن ها ابلاغ نه شده است.

محمد یک زندانی دیګر افغان ګفت:

((اطفال و دو خانم من در افغانستان هستند. زنده ګی من همیشه پر از مصیبت بوده و سرنوشت من بلاخره به این جا کشید. من هیچ ګاه محکمه را ندیده ام اما برای من ګفتند، در صف اعدام قرار دارم. واقعاً نمی دانم این راست است یا خیر.))

ګفته می شود حدود یکنیم ملیون مهاجر افغان در ایران زنده ګی می نمایند که یک سوم آنها غیر قانونی می باشند. این افغان های مهاجر که بنابر دلایل امنیتی و اقتصادی کشور شان را ترک ګفتند، در کار های نهایت شاقه و در بدل مزد نهایت کم در ایران مصروف کار هستند.

بعضی از افغانها تعداد زندانیان افغان را بیش از ۵۶۰۰ تن تخمین نموده اند. همین افغانها ګفته اند، ۳۰۰۰ زندانی افغان در ایران، به اعدام محکوم ګردیده اند.

افغانستان کشور بزرګ تولید کننده مواد مخدر، یک هزار کیلومتر سرحد مشترک با ایران دارد. از طریق همین سرحد مشترک، یک قسمت زیاد مواد مخدر به ایران و از آنجا به سایر کشور ها قاچاق می ګردد.

این شش زندانی افغان که با رادیو آزادی تلیفونی صحبت نمودند، به جرم قاچاق مواد مخدر زندانی شدند. این زندانیان افغان، از سفارت و قنسلګری های افغانستان در ایران شکایت دارند و می ګویند، از آن ها هیچ ګونه کمکی در مورد دوسیه های آن ها در نظام قضایی ایران ندیده اند.

یک زندانی افغان به نام رحیم می ګوید:

«ما هیچ امیدی نداریم، با آن که ما حکومت در کابل داریم. من می دانم بسیاری افغان ها از ولایات مختلف افغانستان در زندان ایران به سر می برند. ما ریس جمهور خود را در تلویزیون می بینیم و می شنویم که جناب شان راجع به آزادی و صلح صحبت می کند. اما ما افغانها این جا در زندان می میریم و کسی از ما خبر ندارد.»

بعضی از اعضای پارلمان افغانستان ادعا کردند که مقامات و نظام قضایی ایران در برابر افغانها غیر منصفان عمل می کند و حتی زندانیان افغان از داشتن حق وکیل مدافع محروم می باشند.

کابل ښار کې څه کم ۷ زره ...

اسانتیا هم برابره شي.

نوموړي زیاته کړه چې پدې پروګرام کې بل ډیر د پام وړ ټکی، د ۶۷۳۰ متره کانال پر جوړولو او رغولو سربېره له ۱۷ زرو څخه زیاتو وزګارو کسانو ته د کارکولو اسانتیا هم پیدا کیږي او په دغه پروژه کې د کار په وړاندې به تنخوا اخلي او خپلې کورنۍ به چلوي.

د دغې پروژې مالي ملاتړ کوونکي د امریکا د متحده ایالاتو نړیواله پراختیایي اداره ده، چې د کابل ښاروالۍ په همکاری د پاملرنې مؤسسې له خوا پلې کیږي.

په کابل کې د امریکا د متحده ایالاتو سفیر کارل ایکنبیرۍ، چې د دغې پروژې په پرانیستونکې غونډه کې یې ګډون کړی و، وویل، دوی لېواله دي، چې د کابل د رغونې لپاره په نورو پروژو کې هم برخه واخلي.

ایکن بیري وویل چې ددغه ګډې همکارۍ په نتیجه کې به چې د کابل ښاروالي، نورو ادارو او د امریکا د متحده ایالاتو او نړیوالې ټولنې تر منځ موجوده ده، په کابل کې مثبت بدلونونه رامنځته شي.

نوموړي زیاته کړه چې هیله من یم چې په راتلونکې کې هم به دا شان پروژو کې همکار واوسو.

کابل ښاریان هم د کابل ښار په لارو او واټونو کې د ولاړو اوبو او ډنډونو د ستونزې د هواري په برخه کې د دغه اقدام هرکلی کوي خو هیله لري چې داپروژه به په خپل ټاکلي وخت پای ته ورسېږي او لکه نورې پروژې به یې کار نه ځنډېږي.

د پاکستان مشهور علمي ...

اروانباد د۱۹۳۲ ز کال د اپریل پر ۲۶مه نېټه د هندوستان په هریانه ایالت کې زیږیدلی،پر ۱۹۵۴ د پاکستان له مشهور طبي پوهنتون، کنګ اډورډ میډیکل کالج - لاهور نه فارغ شوی،وروسته یې پر ۱۹۶۵ ز کال چې هندوستان او پاکستان سره په جنګ اخته ول د کراچي له پوهنتونه په اسلامي علومو کې ماستري ترلاسه کړه. (روح دی ښاد وي)